ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.2 2023

# د حافظ الپوري د کلام لساني مطالعه : يو تحقيقي جاج

**A Linguistic Study of Hafiz Alpuri's Poetry: A Research Review**

**Mian Muhammad Rab Nawaz**

M.Phil scholar Department of Pashto, UOM

**Dr. Badshah.i. Room**

Associate Professor, Department of Pashto, UOM

## Abstract

*Hafiz Alpuri stands out as a distinguished Pashto poet, renowned for his masterful imitation of classical Pashto poets. His poetry embodies the rich literary characteristics of the Pashto language, seamlessly blending traditional elements with his unique stylistic flourishes. A scholar of religious studies, Hafiz Alpuri was deeply engaged in teaching these disciplines, and his profound knowledge of Arabic and Persian languages significantly influenced his poetic creations. This article presents a linguistic analysis of Hafiz Alpuri's poetry, highlighting the remarkable interplay of Pashto, Arabic, and Persian. Through this analysis,* we uncover the intricate layers and profound depth of his work, demonstrating how his scholarship and multilingual expertise enriched the Pashto literary tradition.

**Key Words:** Hafiz Alpuri, Pashto, Poet, scholar, Arabic & Persian, linguistic, influence

حافظ الپوري پۀ ۱۱۵۹ هجرۍ کال بمطابق ۱۷۴۶ء کښې د شانګلې ضلعې پۀ مشهور کلي الپورۍ کښې د سلطان ابراهيم کره زېږېدلے دے. نيکنۍ سيمه ئې هشنغر وه خو د کورنۍ دشمنۍ پۀ وجه ئې نيکونه کډن شول او په الپورۍ کښې په مستقل توګه استوګن شول . ياده دې وي چې دوي پۀ قام مندڼ يوسفزي دي.

د حافظ الپوري د خپل نوم پۀ بابله مختلف ليکوالان مختلف بېلا بېلې رائې لري . ځوک ئې يوه نامه ښائي او ځوک په بل نوم يادوي .لکه قاضي عبدالسلام د دۀ خپل نوم معظم خان ياد وي، عبدالحئ حبيبي صاحب ئې نوم معظم ذکر کړې دے، محمد افضل رضا صاحب د دۀ نوم محمد غوث بن سلطان ابراهيم ښودلے دے. دغه بل يو څېړنکار ئې د عبدالمقتدر په نوم پېژندګلو کوي او رحيم شاه رحيم ئې د عبدالصمد په نامه راپېژني ، او د شواهدو پۀ رڼا کښې خپله څېړنه څۀ داسې راوړي:

"د حافظ الپوري صاحب خپل اصل نوم لکه څنګه چې مونږ د هغۀ د شجرې او نمسو پۀ حواله ليکلے دے. عبدالصمد دے کوم چې صحيح او ښۀ معلوم نوم دے. هر کله چې زمونږ سره پۀ لاس کښې يو صحيح او ښکاره سند شته نو مونږ شک او قياس له اخر ولې ترجيح ورکړو. حافظ الپوري د قرآن پاک حافظ ؤ. هغۀ پخپله هم د خپل نوم عبدالصمد پۀ ځاے

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.2 2023

لفظ حافظ د کسر نفسي په خاطر دومره خپل کړے دے چې خپل ټول کلام کښې ئې په طور د تخلص استعمال کړے دے. په دې غرض چې خپل حال د خلقو نه پټ وساتي او همېشه ځان ته د ګدائي او فقيرۍ نسبت کوي. حافظ الپوري صاحب هم د صوفي هم د صوفي بزرګ په حېث په خپله شاعرۍ کښې نوم نۀ دے څرګند کړے."[1]

عبدالصمد الپوري د قرآن مجيد حافظ ؤ او دغه ثبوت مونږ ته په واضحه توګه د هغۀ د کلام نه څرګندېږي.

"کـۀ ئـې تنګدسـت حافظـه خـوښ پـۀ د احسـان ئـې اوسـه
چـې پـۀ سـينه کښـې دې رب خپـل مجيـد کـلام ايښـے دے"[2]

پۀ کلام کښې ئې زياتره تخلص حافظ کارولے دے خو کله کله ئې فقير هم بطور تخلص استعمال کړے دے. او د الپورۍ کلي استوګن پۀ وجه پۀ حافظ الپوري شهرت لري.

د حافظ الپوري پۀ شاعرۍ کښې غالب رنګ د عبدالرحمان بابا ښکاري. د هغۀ د مکتب فکر شاعر دے. شاعري ئې صوفيانه ده. وعظ و نصيحت پکښې ډېر شوے دے. اخلاقي درس لري او د دې سره سره پکښې د سوز و ګداز اظهار هم پۀ چپو دے. ځکه خو دا روايت عام دے چې رحمان بابا لۀ کړے دے او او حافظ الپورۍ ورپسې ورې ټول کړي دي . د حافظ الپورۍ د موضوعاتو پۀ حقله پروفېسر عبدالله جان عابد ليکي:

"عشق، تصوف اور وعظ و نصیحت ان کی شاعری کو تین بنیادی موضوعات ہیں بلکہ یو کہنا زیادہ مناسب ہوگا کہ ان تینوں موضوعات پر انہوں نے دل کے گہرائیوں سے شعر نکالے ہیں. عشق حقیقی کے حوالے سے نہایت شیرین اشعار کیے ہیں اور تصوف کے سمندر سے پیش بہا، موتی شعر کے تار میں پرو دیتے ہیں. ان کے وعظ و نصیحت کا انداز نہایت دلکش بھی ہے اور پر اثر بھی."[3]

د کورنۍ پۀ حقله به ئې مونږ دومره قدرې ووايو چې د حافظ صاحب دوه زامن او يوه لور وه. د مشر زوي نوم ئې محمد وصال او د کشر زوي نوم ئې محمد اولياء ؤ. د حافظ الپوري کور ودانه او دواړه زامن د دۀ پۀ ژوندانه وفات شوي وو. او موجوده نسل ئې د کشر زوي محمد اولياء اولاد دے. حافظ صاحب پۀ کال ۱۲۲۶ هجري بمطابق ۱۸۱۳ ء د دې فاني دنيا رحلت کړے دے. پۀ ګور ئې نو

د حافظ الپوري يوه شعري مجموعه چې پۀ "ديوان الپوري" مشهور دے. پۀ اول ځل قاضي عبدالسلام د شرحې سره مرتب کړے دے بيا ورپسې قاضي غفران الدين مرتب کړے دے او دغه شان پۀ ۲۰۲۰ء کښې دا ديوان پۀ نوې املا کښې ښاغلے فضل رحيم لوهار مرتب کړے دے چې د ښاغلے ضياء الدين

حرف و سخن HARF-O-SUKHAN Urdu Research Journal of PAKISTAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.2 2023

يوسفزي پۀ مرسته د حافظ الپوري پښتو ادبي ټولنې شانګلې نه خپور شوے دے. د دې نه علاوه حافظ الپوري يو قرآن مجيد هم پۀ خپلو لاسونو ليکلے دے چې اوس هم د حافظ صاحب د خاندان سره خوندي دے. وئيلے کېږي چې پۀ دې قرآن مجيد کښې د الله پاک نوم پۀ کوم ځاے کښې هم راغلے دے. د سرو زرو پۀ اوبو ليکلے شوے او بعضې اياتونه هم د سرو زرو پۀ اوبو کښې ليکلے شوي دي. پۀ دې قرآن کښې څلورو سيپارو پورې ترجمه هم ليکلے شوې ده. حافظ صاحب د قرآن مجيد پۀ اولنۍ او اخرينۍ صفحه پۀ فارسۍ ژبه کښې يوه مختصره جمله ليکلې ده چې د پښتو ترجمه ئې داده:

دا قرآن مجيد مامحمد وصال او محمد اولياء ته وقف کړو.

د د هرې ژبې پۀ ادب کښې لرغوني او کلاسيکي ادبياتو ته پۀ درنه سترګه کتلے شي. پۀ دغه تناظر کښې د پښتو لرغونے او کلاسکي ادب هم ډېر زيات اهميت لري . حافظ الپوري صاحب زمونږ د لرغوني د دېوال تقريباً اخرۍ تيږه ده. د دۀ کلام زمونږ دپاره يو معيار دے او پۀ نن وخت کښې پکار ده چې د دې کلاسکي شاعر پۀ کلام د مختلفو زاويو نه څېړنه وشي. به دغه اړه مونږ د حافظ الپوري د کلام اجمالي لساني مطالعه کوو. او د الپوري ديوان بنيادي ماخذ ګرځوو.

د حافظ الپوري پۀ کلام کښې د عربۍ اثرات:

څنګه چې مونږ ته معلومه ده چې د پښتو په زړو او کلاسکي شاعرانو په کلام د عربۍ ډېر جوت اثرات دي. ځکه چې دا زمونږه مذهبي ژبه ده. پښتانۀ پۀ ديني توګه ډېر کلک دي. عقائد ئې مضبوط دي او د اطاعت او عبادت په حواله هم ډېر پابند دي ، ځکه نو پۀ خپلو دغه عباداتو، ذکر او ازکار او لوستو کښې عربي ژبه پکاروي. حافظ الپوري هم يو سوچه پښتون او غښتلے مسلمان وه، او پۀ دې کښې شک نشته چې حافظ يو لوے ولي الله او عالم انسان ؤ. او په عربي ژبه ئې لاس برے لرلو . د عربۍ استاد هم ؤ . نو پۀ دغه وجه ئې پۀ کلام کښې ډېر عربي توري بيامونده شي خو دا ده چې شاعري ئې اسانه ده، قدرتي جوړښت او آمد لري، نزاکت او برجستګي ژوندۍ ساتي او لوستونکو له مزه ورکوي، پۀ بنده بوج کېږي نۀ. د حافظ الپورۍ د کلام څۀ شعرونه سنجوؤ چې عربي توري پکښې استعمال شوي.

"اے داعـــــــــــي هـــــــــــادي برهانـــــــــــه
پـــــــۀ ديـــــــدار مـــــــــــې مشـــــــــرف کـــــــړه
نـــــــــــوراني بـــــــــدر تابانـــــــــه
پـــــــۀ ديـــــــدار مـــــــــــې مشـــــــــرف کـــــــړه"[4]

پۀ دې شعرونو کښې داعي، هادي، برهان او نور عربي الفاظ دي.

يا لکه دا شعر:

"ادم خـــــــــلاص شـــــــو لـــــــه زلتـــــــــه
ســـــــتا د نــــــــور لـــــــه برکتـــــــه"[5]

پۀ دې شعر کښې زلت، نزاکت او نور عربي الفاظ دي.

دغه شان دا شعر وګورئ:

کــــۀ پــــۀ هجـــر کښــــې وصـــال غـــواړې مجنـــون شـــه
د ليلــــــيٰ خيـــــال بــــه وتــــا وتــــه ليلـــــيٰ شــــي"[6]

يو طرف ته پۀ ذکر شوي شعر کښې هجر او وصال عربي لغتونه راغلي نو بل طرف ته عربي داستان ليلي' او مجنون ته هم تلميحا" راخستې شوې دے

دا رنګې دا شعر هم وګورئ:

پۀ حشر نشر کښې نفسي نفسي به وائي عالم
سخت عدالت دے پۀ محشر عقبيٰ زما سروره"[7]

حشر، نشر، نفسي نفسي، عالم، عدالت، محشر او عقبيٰ ټول عربي الفاظ دي.

او پۀ اخره کښې دا شعرونه ولولئ:

"عزازيـــــل پـــــۀ اســــکتبار کښــــې عـــزت بـــائيلو
مســـــتکبر پــــۀ مســــتحق د تـــوقير نـــۀ شــــي

اصـــلي جـــوهر زمـــا دلاســـه پـــۀ دريـــاب کښـــې ډوب شـــو
کـــۀ ډک ســـيندونه پســـې وچ کړمـــه پيـــدا بـــه نـــۀ شـــي"[8]

عزازیل، استکبار، مستکبر، مستحق او توقیر واړه عربي لغات دي. په دې یو څو شعرونو زمونږ دلته اکفتا کوو نور خو کۀ وکتلے شي نو د عربئ ژبې الفاظ او دغه اثرات د حافظ په کلام کښې په وافر مقدار کښې په نظر راځي.

د حافظ صاحب په کلام د فارسئ اثرات:

د عربئ سره سره د حافظ په کلام د فارسئ هم ډېر اثرات دي. بلکې د عربئ نه د فارسئ اثر سېوا ښکاري. فارسي ژبه زمونږ په ناویشلي هندوستان کښې تر صدو صدو پورې دفتري ژبه پاتې شوې ده. بل طرف ته په نصاب کښې هم عربي او فارسي شامل وه او په مدرسو جماعتونو کښې به طالبعلمانو ته ښودلې شوې. لکه نن سبا چې انګرېزي او اردو هغه انداز خپل کړے دے او په دعوامو کښې مقبولیت لري. خو کۀ مونږ بیا هم د حافظ الپورئ کلام په غور سره ولولو نو سلاست او رواني لري او د بناوټ نه بېخي ازاده معلومېږي خو دا خبره حقیقت دے چې د خپل وخت د چاپېرچل نه د اثر او د خپل علمیت په وجه ئې شاعرئ په بشپړه توګه فارسي لغات خپل کړي دي، په دې حواله د مثال په توګه څۀ شعرونه وړاندې کولے شي:

"سپینه خولۀ ئې ګنج دے توري زلفي خاماران دي
بلوسي په شه مارو مشاطه په زړۀ محکمه ده"[9]

په ذکر شوي شعر کښې ګنج، زلف، شه مار، مشاطه او محکم ټول فارسي الفاظ دي.

یا دا شعر وګورئ:

"دانایان به د حافظ شعر معمول کا
کۀ د فکر په مېدان ئې سنجیده شي"[10]

په دې شعر کښې دانا، معمول، فکر او مېدان د فارسئ الفاظ دي. دغه شان دا شعر هم د کتلو دے:

"عاشقان تل جور وجفا څکي د دوست لۀ دسته
لکه فرهاد د کوه په کن ستومانه نۀ شي"[11]

په دې شعر کښې جور، جفا، دوست، دست، کوه او کن فارسي لغات دي. دې سره دا شعر هم د موضوع سره علاقه لري:

"هـــــيخ عاقـــــل بــــه پــــۀ وبجــــاړه میشـــــتۀ نـــــۀ وي
مجنـــــون مینــــــي کــــــړو میشــــــته پـــــۀ ویرانــــــې"[12]

پۀ ذکر شوي شعر کښې عاقل او ویراني فارسي لغات دي. د مخکښې ذکر شوو شعرونو تر څنګ دا شعر هم د حافظ الپوري پۀ شاعرۍ د فارسي ژبې د اثر دلالت کوي:

"د یوســـــــف جـــــدائی خــــــواره زلېخـــــا کـــــړه
د وصـــــال دولـــــت پـــــرې بیـــــا زېــــب و زینــــت ږدي"[13]

پۀ دې شعر کښې جدائي، وصال او زېب و زینت د فارسۍ ژبې لغات دي.

د حافظ الپورۍ روانه او اسانه شاعري:

د حافظ الپورۍ شاعري ګرانه نۀ ده. عام وګړي ئې پۀ کلام پۀ اسانه نۀ پوهېږي ځکه چې فارسي، عربي لغات پکښې ډېر دي خو د دې سره سره پۀ دیوان کښې داسې شعرونه هم شته چې د سهل ممتنع ښکار دي. د روزمري مطابق او پۀ روانه ژبه کښې بیان شوي دي. ډېر ښکلي ساده او کلیوال رنګ لري. لکه دا لاندیني شعرونه:

"ســــیاه چشـــــمان بـــــه ئـــــې شـــــهلا یـــــا تـــــور بـــــادام وي
ســـــور رخســـــار بـــــه ئـــــې رومـــــان وي مـــــونږ بـــــه نـــــۀ یـــــو
ســـــپین چامبېـــــل ســـــورګې لالـــــه بـــــه جلـــــوه کانـــــدې
لذیـــــذ بـــــوي بـــــه د ریحـــــان وي مـــــونږ بـــــه نـــــۀ یـــــو"[14]

"چـــــې ســـــرې ســـــترګې، ســـــور پېـــــزوان، ســـــرۀ لـــــب رایـــــاد کـــــړم
د اتـــــش پـــــۀ ســـــرو ســـــکروټو ځیګـــــر نیســـــم

"بـــــاز پـــــۀ ژالـــــه کښـــــې چـــــا نـــــۀ دے پېژنـــــدلے
قـــــدر نشـــــته د حـــــافظ پـــــۀ الپـــــورۍ کښـــــې"[15]

"حـــــافظ نـــــن دې خولـــــۀ پرانســـــتې ده ثنـــــا پـــــرې وایـــــه
چـــــې مـــــرګ ئـــــې وتـــــړي ســـــبا څـــــۀ بـــــه تـــــرې غـــــږ وخېـــــژي"[16]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.2 2023

"محبوبه چې خوا له راغله خوب جماله
د جنت حورې مې ووتې لۀ خیاله
د چمن لاله ئې زار تر لطافت شه
داسمان سپوږمۍ مې نۀ ده د مخ سیاله
درمرجان ئې لب دندان ته نۀ رسېږي
د خوبۍ خورشېد ئې خلاص دے لۀ زواله"[17]

دغه شان دا ټول غزل یو مسلسل ربط او تړون لري او تر اخره پورې قاري د ځان سره مشغول ساتي او پۀ بنده بوج کېږي نۀ بلکې د سړي پۀ زړۀ کښې د وئیلو تلوسه لا زیاتوي. پۀ دې طرز غزلې او شعرونه د حافظ پۀ شاعرۍ کښې نورې هم ډېرې پۀ نظر راځي. پۀ اصل کښې د هغۀ ټوله شاعري ډېره برجستګي لري خو د هغۀ ژبه علمي ده او عام خلق ورته هغه شان رسائي نۀ شي کولے څنګه چې پکار ده.

علم بیان او د حافظ الپوري کلام:

علم بیان د هغه قاعدو نوم دے چې د هغې پۀ ذریعه ادیب د خپل مطلب اظهار پۀ خوندور انداز کښې وړاندې کولے شي. د بیان لغوي معني ښکاره کول / څرګندول ده خو پۀ ادبي اصطلاح کښې هغې ته وئیلے کېږي د کومې پۀ ذریعه چې یو شاعر، ادیب او نقاد د خپل مطلب څرګندولو دپاره خوندور او پۀ زړۀ پورې لفظونه پکار راولي.

د علم بیان څلور ارکان دي تشبیه، استعاره، کنایه او مجاز مرسل. د حافظ الپورۍ پۀ کلام کښې د دې څلورو واړو ارکانو استعمال پۀ واضح ډول پۀ نظر راځي هم دغه وجه ده چې شاعري ډېره زړۀ راښکون لري.

تشبیه:

تشبیه پۀ لغت کښې ورته کېدو، او یو څېز د بل پۀ شان کېدو ته وائي خو پۀ اصطلاح کښې یو څېز د څۀ صفت پۀ وجه د بل پۀ شان څرګندول وي. د صفت نه مراد خوبي او خامي دواړه کېدے شي. د تشبیه قسمونه هم ډېر زیات دي خو مونږ پۀ دغه تفصیل کښې نۀ ځو دلته به مونږ صرف د حافظ الپورۍ د شاعرۍ نه څۀ شعرونه وړاندې کړو چې د تشبیهاتو د استعمال نه پکښې فائده اخستے شوې وي.

" حلال حلال دی د حرامو نه پرهېز کړه مدام
لکـــه د اوبښ پـــه شـــان پـــه دواړو ژامـــو شـــخوند ونکـــړې"[18]

"بهـــتري داده چـــي ئې زور قـــوت راکـــړې نه دے
لکـــه ایلـــۍ خـــوراک اوبـــړۍ مـــې دے نوکـــدار نـــه یمـــه "[19]

"نـــــازکي ئـــــې د غنچـــــې ســـــوز د بلبلـــــې
پـــــهٔ ګـــــردن د خیـــــال اوګـــــۍ ئـــــې قمـــــري کـــــا"[20]

استعاره:

هر کله چې یو د حقیقي معنې پهٔ ځاے پهٔ مجازي کښې داسې استعمال شي چې د دواړو ترمینځه د تشبیه تعلق موجود وي نو دغه استعاره بللے شي.

"د استعارې لغوي معنيٰ قرض اخستل دي او پهٔ حقیقت کښې د تشبیه د مختصر کولو او پکښې د مبالغې پیدا کولو ته استعاره وئیلے شي مثال او پهٔ شان وي."[21]

اوس د حافظ الپوري کلام ته راځو چې هغه پخپل کلام کښې د استعارې د استعمال نه ښنګه استفاده کړې ده.

"مـــــرګ خـــــزان دے ربـــــژوي سمســـــور ګلونـــــه
د ببـــل ببـــل ببلتـــون پـــهٔ زړهٔ کښـــې خـــار زمـــا دے"[22]

"هغهٔ طوطي چې چغیده چغار اوس ولې نهٔ کا
مرګي ئې مهر پهٔ خولهٔ ایښے دے ګویا به نهٔ شي"[23]

"تهٔ چې زړونه ژوبلوې پهٔ ښار د ژبې
خانمان به اوسېږي پهٔ نار د ژبې"[24]

کنایه:

حرف وسخن HARF-O-SUKHAN Urdu Research Journal of PAKISTAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.2 2023

کنایه پهٔ لغت کښې پهٔ رمز کښې خبره کولو ته او پهٔ اصطلاح کښې یوه خبره پهٔ داسې ډول کولو ته وئیلې شي چې حقیقي او مجازي دواړه مطالب ترې اختسې شي. خو د لیکوال مقصد حقیقي نهٔ بلکې مجازي وي. محمد طاهر فاروقي پهٔ دې حقله داسې وائي:

"اگر کسی لفظ کو استعمال کرکے اس کے لازم معنی مراد لی جائے لیکن وہاں اس کے حقیقی معنی سمجھنا بھی جائز ہو تو اسے کنایہ کہتے ہیں."[25]

د کنایې پهٔ حقله د حافظ الپورۍ څهٔ شعرونه د حوالې پهٔ توګه وړاندې کولے شي:

"سره لمبه مې له ګوګله شي چاپېره
چې سورکې پېزوان پهٔ پوزه سناري کا"[26]

"لمر زما د یار د مخه نور مونډلے
زهٔ به څهٔ له بل د مخ ته نظر نیسم"[27]

اصلي جوهر زما د لاسه پهٔ دریاب کښې ډوب شو
کهٔ ډک سیندونه پسې وچ کړمه پېدا به نهٔ شي"[28]

مجازمرسل:

دا د علم بیان څلورم او اخري رکن دے د مجاز مرسل نه مراد د یو لفظ د خپلې حقیقي معني پهٔ ځاے پهٔ بله کښې داسې استعمالول دي چې د دواړو ترمېنځه د تشبیه تعلق نهٔ وي.

"هر کله چې یو لفظ د خپلې حقیقي معني نه علاوه پهٔ بله معني کښې استعمال شي او پهٔ حقیقي او مجازي دواړو معنو کښې ئې د تشبیه تعلق نهٔ وي بلکې څهٔ داسې قرینه پکښې موجود وي چې د هغې پهٔ وجه ترې مجازي معني مراد واخستے شي نو ورته مجاز مرسل وئیلے شي."[29]

لکه د حافظ الپورۍ دا لاندیني شعرونه :

"هیڅ عاقل پهٔ عقل نهٔ رسي اسمان ته
عاشقان قدم بالا پهٔ عرش اوچت ږدي"[30]

"بــــاز پـــــۀ جالـــــه کښــــې چـــا نـــــۀ دے پېژنــــدلے
قــــدر نشــــــته د حـــــافظ پــــۀ الپـــــورى کښــــې"[31]

"هغــــــه حســــن چـــې ســــتا دے د پــــرى نشــــته
وجمـــــــال تــــــه دې طاقـــــت د بـــــدرى نشــــــته"[32]

علم بديع او د حافظ الپوري کلام:

علم بديع هغه علم دے چې د دې پۀ ذريعه شاعران پۀ کلام کښې ښائست سېوا کوي. څومره چې يو شاعر پۀ دې علم کښې مهارت لري دومره د هغۀ کلام خوندور او ګټور وي. مشتاق مجروح پۀ دې حقله ليکي:

"بديع پۀ اصطلاح کښې هغه علم ته وائې چې د کلام ښائست پرې معلومېږي يعني علم بديع هغه قاعدې دي چې کۀ چرې هغۀ پۀ يو کلام کښې وي نو پۀ کلام کښې به ئې حسن پېدا شي."[33]

د علم بديع پۀ دوه قسمه دي يو ته صنائع لفظي يعني لفظي ښائست او بل ته معنوي ښائست وئيلے شي. دا پۀ نظم کښې هم کېدې شي او پۀ نثر کښې هم. خو د نثر پۀ نسبت پۀ نظم کښې زيات خوند کوي. حافظ الپوري پۀ خپل کلام کښې د صنا ئعو او بدائعو استعمال پۀ خلاص مټ کړې دے. دلته ئې د يو صنعتونو د استعمال نمونې راوړلې شي.

تجنيس تام:

"زۀ مســـــکين بــــې کـــس يـــم خـــوار د لارې خــــس يــــم
ښېـــــتے پـــۀ لمــــن ستاســـو خــــس مــۀ پرېــږدى خنـــاس تـــه"[34]

دلته خس بطور تجنيس تام استعمال شوے دے.

تجنيس مضارع:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.2 2023

"پــــــهٔ هغـــــــه ګـــــــذرګاه لاس حـــــــافظ لـــــــه ورکـــــــړه
چـــــې تـــــر شـــــپې دے تاریـــــک تـــــر باریـــــک تـــــر مویـــــه"[35]

تاریک او باریک پهٔ پورته شعر کښې هغه حروف دي تجنیس مضارع بللے کېږي.

یا دا شعر:

"حـــــافظ ذلیـــــل علیـــــل ولاړ دے مـــــولا ســـــتا پـــــهٔ در کښـــــې
بخشـــــش عطـــــا پـــــهٔ دې محتـــــاج وکـــــړې غنـــــي وهابـــــه"[36]

ذلیل علیل د تجنیس مضارع فن لري.

تجنیس مکرر:

"غـــم بـــه مـــې ورک شـــي کـــهٔ یـــو ځلـــه پـــهٔ نظـــر کښـــې شـــوے ســـتا
ډیـــــر وار خطـــــا یـــــم پـــــهٔ ژړا ژړا زمـــــا ســـــروره"[37]

"زلفـــې چـــې تـــار تـــار کـــړې بـــوي خجـــل شـــي د عنبـــرو
مشـــــک لـــــه ســـــیالۍ پریـــــوځي د تـــــار تـــــار دختـــــن لا"[38]

پهٔ پورته شعرونو کښې ژړا ژړا او تار تار د تجینس مکرر مثالونه دي.

تجنیس زائد:

"نیـــــک عمـــــل وفـــــادار مـــــل زهٔ تـــــري عافـــــل شـــــوم
ســـــخت ســـــفر پـــــهٔ خطرناکـــــه لار زمـــــا دے"[39]

عمل او مل د تجینس زائد مثال دے.

صفت سیاق الاعداد:

حرف و سخن
HARF-O-SUKHAN
Urdu Research Journal of PAKISTAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.2 2023

پۀ شعر کښې د عددونو ذکر کول صفت سیاق الاعداد دے.

"ځلــــور کتابونــــه بــــه نــــازل شــــوې د خــــدا ے لــــه لــــوري
پــــۀ دغــــه واړو کښــــې قــــرآن ښــــۀ معتبــــر ونیســــه"[40]

"مشــــک عنبــــر بــــه واړه زر ځلــــه تــــرې زار کــــړم
کــــۀ پــــۀ خــــاوره مشــــرف ســــم ســــتا لــــه رویــــه"[41]

صفت طباق:

"مــــرګ خــــزان د ے ربــــړوي سمســــور ګلونــــه
د ببــــل ببلتــــون پــــۀ زړۀ کښــــې خــــار زمــــا د ے"[42]

ګل او ښار اپوټه الفاظ دي چې د دا قسمه صنعت مثال د ے. یا دا بل شعر وګورئ:

"کــــۀ پــــۀ هجــــر کښــــې وصــــال غــــواړي مجنــــون شــــه
د لیلــــيٰ خیــــال بــــه و تــــا و تــــه لیلــــيٰ شــــي"[43]

هجر او وصال پکښې تضاد الفاظ دي.

صفت تدبیج:

پۀ دا قسمه صفت کښې پۀ شعر د رنګونو ذکر شو ے د ے:

"چــــې پــــۀ زېــــل د تــــورو زلفــــو اســــېر نــــۀ شــــي
بهرمنــــد بــــه د ســــپین مــــخ د جــــاګیر نــــۀ شــــي"[44]

تور او سپین رنګونه پکښې ذکر شوي دي.

صفت حسن تعلیل:

"چـــې ئـــې بـــاد چـــرې نقـــاب لـــۀ مخـــه يوســـې
ســـپوږمۍ هلتـــه پـــۀ آســـمان کښـــې شـــې تاريکـــه"[45]

د خپل محبوب د حسن دومره صفت چې سپوږمۍ د شرمه هلته پټه شي. دا حقيقت نۀ لري خبره ده خو پۀ شعر کښې څومره خوند کوي. پۀ اصل کښې سپوږمۍ پۀ خپل وخت ښکاره کېږي او پټېږي. يا دا شعر وګورئ چې د حسن تعليل څومره ښکلې نمونه ده:

"د جبـــين پـــۀ تجلـــو ئـــې ملـــک رڼـــا شـــو
کـــږو ورځـــو تـــه ئـــې لاف مـــۀ کـــړه هلالـــه"[46]

د دې نه علاوه حافظ پخپل کلام کښې نور هم يوشمېر صنعتونه راوړي دي ، چې د هغه په کلام کښې ئې لفظي او معنوي ښکلا او ښائست پيدا کړے دے ، دغه څو شعرونه مې د مشت از خروار په نمونه وړاندې کړل .

پۀ اخره کښې به دومره قدرې ووايم چې حافظ الپورى د عربۍ فارسۍ لوے عالم او پوهه استاد وه . چې په شاعرۍ ئې هم د دغه ژبو جوت اثر ليدلې شي . پۀ کلام کښې موزونيت او رواني ډېره ده. شاعرۍ ئې زياته پۀ اوږد بحر کښې کړې ده. ترکيبات ئې ډېر پۀ زړۀ پورې او د روزمرې مطابق دي ..موضوعات ئې د تصوف، پند ونصيحت ، عشق ، مذهب او ذاتي غم ودرد نه چاپېره چورلي .تر کومې چې د حافظ الپورى د شاعرۍ د لساني مطالعې تعلق دے نو ددې پورته خبرې نه مونږ په دې نتيجه رسو، چې هغه که يو اړخ ته د پښتو ژبې خپل سوچه او لرغونې کلمات، ټکې او ترکيبات پکار راويستې دي نو بل اړخ ته ئې د فارسۍ ا عربۍ لغات هم په پرېمانه توګه استعمال کړي دی. د قران ، احاديث او نورو علومو نه ئې هم ښه استفاده کړې ده . هم دا وجه ده چې د شاعرۍ ئې شهرت بيامونډې دے او په لر او بر کښې ئې هر څوک پېژني .

حوالي:

1. ديوانِ حافظ الپوري، فضل رحيم لوهار، حافظ الپوري پښتو ادبي ټولنه، 2020ء، مخ14.
2. ايضاً، مخ91.
3. عابد، عبداللہ جان، پشتو زبان و ادب کی مختصر تاریخ، یونیورسٹی پبلشرز، پشاور، ۲۰۱۱ء، ص118.
4. ديوانِ حافظ الپوري، مخ50.
5. ايضاً، مخ57.
6. ايضاً، مخ110.
7. ايضاً، مخ84.
8. ايضاً، مخ266.
9. ايضاً، مخ123.
10. ايضاً، مخ115.
11. ايضاً، مخ92.
12. ايضاً، مخ78.
13. ايضاً، مخ157.
14. ايضاً، مخ268.
15. ايضاً، مخ249.
16. ايضاً، مخ141.
17. ايضاً، مخونه: 117,118.
18. بريكوټي ، شېر افضل خان ، عندليب سوات حافظ الپورى ، آفرين خان ابوها ( سوات) ۱۹۹۵ ء ، مخ 42
19. نعيم، ډاکټرهدايت الله ، ديواني مقدمه ـ د حافظ الپورى ژوند او شاعري ، پېښور ادبي جرګه پېښور ، جنوري ۲۰۰۰ء ، مخ80.
20. ديوانِ حافظ الپوري ، مخ156.
21. يوسفزے، مشتاق مجروح، زرکانړے، قلندر مومند ريسرچ سيل، پينځم چاپ، 2018ء، مخ52.
22. ديوانِ حافظ الپوري، مخ266.
23. ايضاً، مخ171.
24. ايضاً، مخ237.

25. فاروق، محمد طارق، فصاحت و بلاغت، یونیورستي بک اېجنسي، مخ42.

26. ديوانِ حافظ الپوري، 121.

27. ایضاً، مخ99.

28. ایضاً، مخ171.

29. یوسفزے، مشتاق مجروح، زرکاڼے، مخ68.

30. ديوانِ حافظ الپوري، مخ156.

31. ایضاً، مخ249.

32. ایضاً، مخ122.

33. یوسفزے، مشتاق مجروح، زرکاڼے، مخ77.

34. ديوانِ حافظ الپوري، مخ126.

35. ایضاً، مخ148.

36. ایضاً، مخ98.

37. ایضاً، مخ107.

38. ایضاً، مخ101.

39. ایضاً، مخ266.

40. ایضاً، مخ72.

41. ایضاً، مخ79.

42. ایضاً، مخ58.

43. ایضاً، مخ111.

44. ایضاً، مخ150.

45. ایضاً، مخ191.

46. ایضاً، مخ118.